# دَ یوحنا رسُول دریم خط

## سلام

۱ دَ مشر له طرفه، خوږ ګایوس ته، دَ چا سره چه زَهٔ
رښتینے مینه لرم.

۲ زما خوږه ګایوسه! زَهٔ دُعا غواړم چه روغ جوړ اَؤ په
خیر خیریت اوسے لکه څنګه چه زَهٔ خبر یم چه تهٔ په
روحانی طور یئے. ۳ هر کله چه ورُوڼه راغلل اَؤ ما ته ئے
دا ووئیل چه تهٔ څومره په حقیقت کښے ژوند تیروے نو ډیر
خوشحاله شوم. بے شکه تهٔ په خپل ټول ژوندُون کښے
رښتینے یئے. ۴ دَ دے نه زیاته خوشحالی ما ته په بل هیڅ
څیز نهٔ حاصلیږی چه زَهٔ دَ دے نه خبر شم چه زما بچی په
حقه لار روان دی.

## مرسته اَؤ مُخالفت کول

۵ اَئے وروره! تهٔ دَ ورُوڼو په خدمت کښے ډیر وفادار
یئے اګر که تهٔ هغوئ پیژنے هم نه. ۶ هغوئ دلته دَ
جماعت په وړاندے ستا دَ ښهٔ سلوک صفت وکړو. مهربانی
وکړه تهٔ دَ دوئ په سفر کښے ورسره هغه شان مدد وکړه لکه
څنګه چه زمُونږ دَ خُدائے دَ وړاندے لائق دی. ۷ هغوئ دَ
عیسیٰ دَ نُوم دَ خاطره دَ خدمت کولو دَ پاره ووتل اَؤ دَ بے
ایمانانو نه هیڅ څیز هم نهٔ آخلی. ۸ نو مُونږ ته لازم دی چه
دَ داسے خلقو مدد وکړُو اَؤ په دغسے کولو دَ حقیقت په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خورولو کښې دَ هغوئ ملګرى شُو.

٩ ما جماعت ته يو خط استولے وو خو ديوترِفِس چه دَ
دوى دَ مشرئ شوق لرُونکے دے مُونږ نۀ قبلوى. ١٠ که زَۀ
درغلم نو هغه کارُونه به درته په ګُوته کړم کُوم چه هغه کوى.
هغه زمُونږ په خلاف بے بُنياده اَؤ سپک تهمتُونه لګوى، اَؤ لا
په دے هم نۀ صبرېږى بلکه زمُونږ ورُونړه هر کلى ته پرېږدى
قدرِ هم نه، اَؤ څوک چه داسے کوى هغوئ هم منع کوى تر
دے چه دَ جماعت نه ئے هم وباسى.

١١ زما خوږه ملګريه! دَ بدو پيروى مه کوه بلکه دَ ښو کوه،
ښه کار کوُونکے دَ خُدائے بچے دے اَؤ بد کار کوُونکى
خُدائے کله هم ليدلے نۀ دے.

١٢ دَ ديميتيريوس دَ پاره هر څوک ښۀ شهادت ورکوى اَؤ
دا حقيقت هم دے، مُونږ پخپله هم دَ هغۀ شهادت ورکوُو اَؤ
تۀ خبر ئے چه زمُونږ شهادت رښتينے دے.

## آخرى سلام

١٣ زَۀ ډېرے خبرے درته ليکل غواړم خو دا نۀ غواړم چه
په قلم اَؤ سياهئ ئے وليکم. ١٤ زما اُميد دے چه ډېر زر به
تا ووينم اَؤ مخامخ به درسره خبرے وکړم.

١٥ په تا دِ سلامتى وى. زمُونږ دوستان سلامُونه درته وائى،
زمُونږ هر يو دوست ته سلام ووايه.


pashtobibles.org © عام ١٩٩٦
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.